AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۹

# د پوهنتون خاطرې

## (۲۱)




په مرکزي ليليه کې مو يوه ډله محصلان د محتسبينو په نوم ول. احتساب نه و، سمه ريشخندي وه. ريشخندي دا وه چې دوی به ډيری د جومات په لومړي صف کې ولاړ ول او چې کله به امام سلام وګرځاوه نو رامنډې به يې کړې، د خلکو پر اوږو به يې لاسونه ايښودل، ځوک به يې له زنګنونو سره لګېدل او ځوک له قدمونو سره .له جوماته به ووتل او په بلاکونو به ور ننوتل. اتاق په اتاق به ګرځېدل او د هغو محصلانو نومونه به يې ليکل چې جمعې ته به نه و تللي.

لمونځ خو ټولو کاوه او په وخت يې کاوه؛ خو کله نا کله به جمعې ته لږ ناوخته شو.
له دې محتسبينو سره به ځينې وخت محصلانو جنجال هم کاوه. په يو سهار خو د انجينيري پوهنځي يو محصل ورته غوسه شوی او ويلي يې و: زه مې پلار دلته د انجينيري سبقونو ته راليږلی يم، جمعه مې خپل کلي هم کولای شوه!
موږ ته يې کوچيني مياشتني کارتونه راکول. دې سپينو کاغذي او ځلور کنجه کارتونو به ۳۰ خانې درلودې او هر وخت چې به مو ډوډۍ وخوړه؛ نو يوه خانه به ټيک مارک(په نښه) شوه، د دې کارت لرل ځکه اړين ول چې وپېژندل شي سړی محصل دی، ليليه کې دی او د ډوډۍ مستحق دی. دا کارتونه به موږ چېرکټ کې سرته ايښي ول او د ډوډۍ خوړلو وخت کې به مو ځان سره وړل.

لومړيو کې خو چې به محتسبين اتاق ته راننوتل، له جمعې ښخه د پاتې شويوکسانو د نومونو پوښتنه به يې کوله. خو ځينو به داسې نومونه ورکړل چې بيخي به ليليه کې نه ول. چې دا تخنيک رسوا شو؛ نو بيا يې هماغه کارت کاته، هلته د هر محصل نوم ليکل شوی و.

په هغه مياشت درې ځلور ځلې د سهار له جمعې پاتې شوم؛ خو خدای دې راته معافي وکړي، د يو بل اتاقي کارت مې ورکاوه او د هغه نوم د تارک الجماعت په توګه ثبتيده.

دې محصل کوم بُرس ته امتحان هم ورکړی و. په هغه مازيګر چې جومات ته لاړم، د اوداسه ځايونو کې پر ديوال يوکاغذ سريښ شوی و. دا د ليست خپرولو آغاز و. پاس سر کې يې په غټو تورو دا آيت شريف ليکل شوی و:
(فاعتبروا يا أولي الألباب) او بيا د هغو کسانو نومونه ليکل شوي ول چې سهار جمعه کې يې غير حاضري درلوده.
په دې کې د هغه بې چاره اتاقي نوم هم و چې جمعه کې به حاضر و؛ خو ما يې کارت د خپل کارت په توګه کارولی و. د ده د نوم په ليدلو مې هم وخندل او هم خپه شوم.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

چې له ماسخوتن ډوډۍ اتاق ته راستانه شوو، هغه ملګري ته مې ویل: وا هلکه کوم خارجي برس ته خو دې امتحان نه دی ورکړی؟ هلک رانیغ شو: ولې نه، څه خبره ده؟ ما ویل یو لیست کې مې ستا نوم ولیده؛ خو نور ورته سم متوجه نشوم، لکه چې بریالی شوی یې. هلک خوشحاله شو او ژر یې د لیست پوښتنه وکړه. ادرس مې ورکړ، چې بیرته راستون شو خبره ورسره نه کیده. څه چې یې په خوله راتلل ویل یې او بیا نور هم غوسه شو: که دا نفر مې ګیر کړ یا د تاسې ټولو مخ کې ځان پرې بښه وهم او یا به د هغه سابه په مالګه کړم.

ما ویل خیر ده، حوصله کوه. انسان له سهوې سره دی، چا به سهوه کې دا کار کړی وي. هلک رانیغ شو: دا سهوه به همداسې وي؟ دې بې لمانځه به کرار خوبونه وهل او نوم یې زما ورکاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ